مطبوعاتي اعلامیه

کابل- ۵ جون ۲۰۱۲

## په افغانستان کې د اوږدمهاله پرمختګ لپاره د غوره کاري فرصتونو ایجاد ته اړتیا ده،

## د کار دنړیوال سازمان تازه راپور

کابل (د کار دنړیوال سازمان خبر) د کار د نړیوال سازمان یو تازه راپور چې په افغانستان کې د کار وضیعت په هکله خپورشوی په ډاګه کوي چې په افغانستان کې د ټولنیز او سیاسي پرمختګ لپاره باید د کاري فرصتونو ایجاد او دغوره آبرومندانه کارونو رامنځ ته کولوته لومړیتوب ورکړل شي.

نوموړی راپور (*افغانستان: د اوږدمهاله دندو دایجاد پرلوري*) په ډاګه کوي چې په د ثبات اود ډیرو نویو پایداره دندو په رامنځ ته کولو کې تعادل اړین دي ترڅو وکړي له بیوزلۍ څخه را ووزي. دا یوه اوږد مهاله اقتصادی، ټولنیزه او سیاسي لاره بلل کیږي، اوویل کیږي چې د اوږد مهال لپاره، یوازې، پایداره، د کارد مارکیټ لخوا تعین شوې او په نظر کې نیول شوې ابتکاري زمیني کولای شي اقتصادي او ټولنیزه وده رامنځ ته کړي چې هیواد ورته په اوسمهال کې سخته اړتیا لري.

دا راپور چې د کار د نړیوال سازمان د دفتر له لوري په کابل کې خپور شویدی، یو څو ستونزي په ګوته کوي: د ډا ډ وړ مالوماتو او مالوماتي سیستم نشتوالی، د اوږد مهاله اهدافو او پروګرام نشتوالی، د مختلفو افغاني وزارتونو او اړونده ارګانونو ترمنځ د همغږۍ نشتوالی، د کار له مارکیټ سره ضعیفې اړیکې (راپور زیاتوي چې د سیاسي ثبات او کاریابی ترمنځ اړیکه د اوږدمهاله کاري فرصتونو د ایجاد په برخه کې بریالی نه وه)، د اوږد مهال پر ځای د معمول او لنډ مهال او غیر رسمی کارونو پرایجاد باندې تمرکز شوی، او د مالي ظرفیت کمبود.

راپور زیاتوي، د ډیرو با ثباته او پایداره دندو رامنځ ته کول همغږې اوسره نیږدو تګلارو او پروګرامونو ته اړتیا لري. په ځانګړې توګه، مرسته کوونکو باید د اوږد مهاله کار موندنی ملاتړي پروګرامونو ته لومړیتوب ور کړي، په ځانګړې توګه د دندو او د مهارتونو منځ ته راوړلو ته وده ورکړي. نور کلیدي او مهمې اړتیاوي لکه د غیر رسمی اقتصاد ملاتړ( په شمول د زراعت، کوچنی پروژو پیل او همدا راز شخصي کار) ; د بشري قوې اقتصادي غوښتنو ته دځواب ویونکي لوړو زده کړو( خصوصی او عامه) د زمیني برابرول; لږکیو او له پامه غورځول شوو ګروپونو لپاره د ملاتړ (د ټولو لپاره د مساوي تګلاري کارونه)، په شمول د زده کړې، دقرضي ورکونوې پلانونه، او مسلکي پرمختګ; د ټولنیزدیالوګ غښتلتیا او د ښه کاري مارکیت مالومات تر څو کاري ستراتیژی او پروګرامونه په غوره ډول تنظیم شي.

دا راپور د ۲۰۱۲ کال جولای په میاشت کې د افغانستان لپاره د توکیو کانفرانس ته دچمتو والي په اړه زیاتوي چې بین المللي ټولنه باید په خپلو ژمنو بیا له سره کتنه وکړي څو په اوږ د مهال کې (۲۰۲۴) د کاریابي ملا تړ وکړي او کار ګمارني اړونده پروګرامونو ته بیرنی لومړیتوب ورکړي.

راپورزیاتوي ” په پای کې ډیری پانګه وال باید په خپلو موخو، تشکیل، پلان او د پروګرامونو په عملي کولو له سره فکر وکړي” تر څو د پایداره کارموندنی لپاره په غیر سیاسي اقتصادي پرمختګ، او کاري فرصتونو د زیاتوالي لپاره په خپله اجندا کې ځای ورکړي او د غوره کاری فرصتونو ایجاد ته لاره هواره کړي. .

مطبوعاتی اعلامیه

ښاغلی هیروی بغژۍ، د افغانستان لپاره د کار د نړیوال سازمان استازی وايي: چې د لومړیتوبونو ملي پروګرامونه باید د دندو او مهارتونو په منځ ته راوړلو تمرکز وکړي." افغانستان د کارموندنې ملي پالیسي ته اړتیا لري او په دی برخه کې شته پالیسي، دوه اړخیزه او څواړخیزه پروګرامونه، باید له ښکیلو غاړو سره په بشپړه توګه همغږي او شریک کړای شي، او ټول باید په بشپړه توګه پراصولو او کړنلارو باندې ولاړوي.

د لازیاتو معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره له لاندې کسانو سره اړیکه ونیسی:


هروی بغژی

نماینده سازمان بین المللی کار

برېښنا لیک:ilo_kabul@ilo.org

تلیفون: ۹۳۲۰۲۱۲۴۵۰۰+

او یا

محمد سلیم مستور

د کار او ټولنیز و چارو وزارت د پلان لوی رییس

برېښنالیک: s.mastoor@gmail.com

د اړیکو شمیره +93799409801



**Address:**
Opposite of 1st Macroryan Market, Kabul Afghanistan
Web Site: www.molsamd.gov.af
Email: kniru_8@hotmail.com
PH: 075 2003698

**پته:**
د لومړي مکروریانو مارکیت ته مخامخ
کابل افغانستان
ویب پاڼه: www.molsamd.gov.af
برېښنا لیک: kniru_8@hotmail.com
د تلفون شمیره: 0752003698

**آدرس:**
مقابل مارکیت مکروریان اول، کابل افغانستان
ویب سایت: www.molsamd.gov.af
آیمیل: kniru_8@hotmail.com
شماره تلفون: 0752003698